## ٤

## د جسد لیری کول

## (Carcass Disposal)

کله چه یو رنځ واقع شی ددی ضرورت وی چه د څارویو جسدونه لیری شی.
چه دغه حالت ته د همیشه لپاره د رنځ د مخنیوی یا کنترول په ارتباط ورته ډیره کمه توجه کیږی مختلف فکتورونه د اجسادو په لیری کولوکی مهم رول لری. په هر خاص حالت کی خاصی پاملرنی او د ډیرو با ارتباطه کسانو تصمیم ته ضرورت وی. بعضی فکتورونه چه باید په پام کی ونیول شی په لاندی ډول دی.

- نوع د څاروی چه باید لیری شی.
- تعداد د څارویو.
- اندازه د موادو چه ورسره لیری کول غواړی لکه فرش، هگی، شیدی او نور.
- نوع د رنځ د مراقبت لاندی.
- خطر د انتشارو انسانانوته.
- د چاپیریال د ککړیدو خطر.

**هغه معیار چه د جسد د لیری کولولپاره په بین المللی ډول سره په پام کی نیول کیږی.**

> خښول د ټولو نوعه دڅارویو لپاره شاید اسانه او چټکه طریقه اوسی. مگر د وخت په تیریدو سره تقریبآ ټول رنځ تولیدونکی عوامل د بیا فعالیدو امکان شته. بالخصوص په هغه ځایونو کی چه ځمکی لاندی د اوبوسطحه لوړه وی او یا زیات شمیر لوی څاروی دفن شوی اوسی دعامو خلکو د سکلو د اوبو د ککړیدو سبب کیږی.

> په مستقیم ډول او یا سوځولو دماشین په ذریعه، سوځول تر ټولو غوره لیاره ده چه په هغی کی ټول رنځ تولیدونکی عوامل له منځه ځی. اما پدی لیاره کی خنډ دادی چه زیاتی اندازه تیلوته ضرورت دی تر څو ټول جسدونه په پوره ډول سره وسوځول شی. باالخصوص هغه وخت مشکیږی چه کله غواوی موجود واوسی. او له بلی خواپه دغه طریقه کی د چاپیریال هوا هم ملوث کیږی.

حلالول او د انسانانو په ذریعه د هغوی مصرفول هم ښه لیاره ده په هغه صورت کی چه <
مریضی انسانانوته د انتقال سبب نه شی.

> جوشول په لوړه درجه د حرارت کی چه د هغی په نتیجه کی پروتین او شحمی موادو ترکیب ویجاړ او وروسته بیا د نورو څارویو د خوراک لپاره ورڅخه استفاده کیږی. پدی لیاره کی لوی خنډ د مطمئن او په فنی لحاظ عصری سهولتونو برابرول دی.

> کمپوستنگ (Composting) هغه طریقه ده چه په هغی کی د څاروی انساجوته حرارت ورکول کیږی چه دغه حرارت بیولوژیکی ترکیب ویجاړوی او په نتیجه کی د رنځ تولیدونکی عامل قابلیت په مکمل ډول سره له منځه ځی. پدی لیاری کی لوی خنډ دادی چه ډیر وخت (څوورځو څخه تر څو اونیو پوری) پکښی ضرورت لیدل کیږی او دابه هم ضروروی چه ځناور له هغوی څخه وړاندی وساتو.

> الکلین هایدرولایزس (Alkaline hydrolysis) یا د انساجو هضمول هغه طریقه ده چه دزیات حرارت، فشار او القلی محیط په درلودلو سره د څاروی انساج په مکمل ډول په مایع بدلیږی او بیا د ودانیو د کانالیزاسیون یا گنداب ته لیږدول کیږی د BSE د عامل (Prion) د پوره د لمنځه وړولو لپاره دا خوراتر ټولو غوره لیاره ده. اما پدی لیاره کی خنډ دادی چه دا سامان آلات ډیر قیمته دی.

## په افغانستان کی د جسدونو د لیری کولو لپاره معمولی لیاری :

- د ټولو نوعه د څارویو لپاره معموله طریقه حلالول او وروسته بیا دهغوی مصرفول دی.
- د الوتونکو د انفلوینزا په صورت کی کوم چه انسانانوته انتقال کوی د ښخولو د طریقی څخه استفاده کیږی- چرگان د دری متره په ژوروالی په ځمکه کی (بدون د پلاستیک د پوش څخه) ښخوی د پاسه وربانده چونه اچوی او خاوری وربانده اړوی.

- تی لرونکی څاروی چه په زونوتیک (Zoonotic) رنځ اخته وی هم خښول کیږی چه پدی صورت کی د دوه متره په ژوروالی کند وښکل کیږی څاروی پکښی ځای په ځای او د پاسه وربادی چونه اچوی. دغه قبر باید د سکلو د اوبو د مخزن څخه ۳۰ متره فاصله ولری.



له چونی سره د خښولو مثال- چرگان په کوهی کی د دری مترو په ژوروالی کی اچول شوی دی.



حلالول یوه ښه قبول شوی لیاره ده په هغه صورت کی چه د انسانانو ژوند ته پکښی خطر ونه اوسی.